Afghanistan Digital Library

adl0646

http://hdl.handle.net/2333.1/1zcrjdj7



This is a PDF version of an item in New York University's Afghanistan Digital Library (http://afghanistandl.nyu.edu/). For more information about this item, copy and paste the "handle" URL above into a web browser. When referring to or citing this item please use the "handle" URL and not this document or the URL from which you downloaded it.

All works presented on New York University's Afghanistan Digital Library website are, unless otherwise indicated, in the public domain. The images available on this website may be freely reproduced, distributed and transmitted by anyone for any purpose, commercial or non-commercial.

NYU Libraries, Digital Library Technical Services, dlts@nyu.edu

# نظامنامه

# د توقیف خانو او محبس خانو

په (۱) د أسد سنه ۱۳۰۶

په مطبعه د «شرکت رفیق» کابل کښی چهاپ شوی

شمار د چهاپ: (۱۰۰۰)

قیمت د یوی نسخی (۱۸) پول

http://hdl.handle.net/2333.1/1zcrjdj7 Image 3 of 20

بسم الله الرحمن الرحیم

# نظامنامهٔ توقیف خانو او بندیخانو

قاعده :- په هر مرکز د نائب الحکومګیو او اعلی او نورو
حکومتیو کښې یوه یوه توقیف خانه - او په مرکز
د نائب الحکومګی او اعلی او لویو حکومتیو کښې
بندیخانې - او برسیره په دا باندې په پایتخت
د کابل کښې یوه عامه بندی خانه شته .

(۲) :- په مرکز د ولایت د کابل کښې یو مامور د
توقیف خانې او یو مامور د بندی خانې شته
او په نورو ولایتو او اعلی حکومتیو په هغه ځایو
کښې چه بندی خانه لری ، یو یو مامور د بندیخانې

شته، او په هغه ځایونو کښې چه توقیف خانه
شته یو تن له منصبدارانو د کوتوالی څخه به د وظیفې
اوکارونه د مامور د بندی خانې، کوی.

(۳):- توقیف خانې مخصوص دی، لپاره د هغو سړیو
چه سم له خاصی نظامنامی توقیف (نظربندی)
لاندی راشی، او تر هوسه د دوی په حق کښې
څه حکم نه وی وتلی

په بندی خانو کښې محض هغه سړی موجود وی
چه په حق د دوی کښې فیصله او حکم وتلی وی

(٤):- هغه کسان چه په سبب د "قباحت" حکم قید کیږی
یا په واسطه د هغی "جُنحی" چه مدة د بندی تر
لږ د دو میاشتو څخه زیاد نوی بندی شی دوی هم
مدة د دی جزاء خپلی به په توقیف خانو کښې پوره کوی

(۵):- هغه محکومین چه زیاد له دوی میاشتو څخه بندی
کیږی، بندی خانو د مرکز د ولایت یا اعلی حکومتی

ته لیږل کیږی، مګر محکومین د "جنحه"، د هغو حکومتیوچه لویو حکومتیو پورې تړلی دی، په بندی خانو د لویو حکومتیو کښ په ملاة د بندګ توپ خپل پوره کړی.

(۶):- هغه محکومین د "جنحه" او د "جنایات" چه په بندی خانو د ولایتو او اعلی حکومتیو کښ بندیے کیږی، له نائب الحکومګیو او اعلی حکومتیو څخه هغه محکومین چه ملاة د بندی توپ د دوی زیات له پنځو کلو وی او د هغو لویو حکومتیوچه ولایت د کابل پوری تړلی دی،، هغه سړی چه زیاد له دوو کلو حکم د بندی توپ پری شوی وی- په هر کال کښ دوه ځلی عامی بندی خانی د کابل ته لیږل کیږی.

(۷):- بندی خانه او توقیف خانی د نائب الحکومګیو او د نورو حکومتیو، د کوتوال د هـ.ـه ځای تر

http://hdl.handle.net/2333.1/1zcrjdj7 Image 6 of 20



لیدلو او نګرانی لاندی وی بوسیوه په دابانلدی
پر عامه بندی خانه کښی یو مامور د بندی خانی
شته، انتظام او نښه ساتنه دننه د بندیخانو په واسطه
د کاره ارانو د بندیخانی او د توقیفخانی د کوتوالی د هغه خاتری سپارلی

(۸):- ماموران د توقیف خانو او د بندی خانو له یو
او باخبری د تولو نظامنامو او قاعدو د هغو توقیف
او بندی خانو، چه د وی پوری تعلق لری مسئول
او جوابده دی - او هم دا لازی لا باخبری او تو
د خپله توقیفخانو او بندی خانو هم مسئول وی.

(۹):- مامورین د توقیف خانو او بندی خانو، احوال و
کیفیت د هغو سړیو چه توقیف او بندی شوی
په یو مخصوص کتاب کښی قید او ثبت او داخلوی -
د دی کتاب پاڼی یو ځوا لیکلو شخه، نمبر
وهلی شی، او د هغه ځای د کوتوالی له خوا څخه
شمار او په آخر کښ د دی کتاب کښی تصدیق

http://hdl.handle.net/2333.1/1zcrjdj7 Image 7 of 20



کړی شی .

(۱۰):- تول هغه سړی چه توقیف یا بندی او په
توقیف خانه یا بندی خانه کښ داخل شی،
لیکلی شوی سند د توماندان دکوتوالی
یا د قاضی فیصله به کوی او په دا مخصوص
کتاب کښ به ئی ثبت او قید کوی -
مامورین د توقیف خانی او بندی خانی هیڅ
کله داسی شان سړی چه ددوی په حق کښ
یو سند د توقیف د توماندان د کوتوالی یا فیصله
د قاضی ورتلی نه وی په توقیف خانه یا بندی خانه
کښ قبولولی نه شی، هغه مامورین چه په خلاف
ددی قاعدی کُم سړی په توقیف خانه یا بندیخانه
کښ داخل کړی سم له نظامنامه دجزای عمومی هغو
څخه باز خواست کیږی .

(۱۱):- په دغه کتاب کښ تاریخ د توقیف یا بندی توپ

http://hdl.handle.net/2333.1/1zcrjdj7 Image 8 of 20



سړه له تاریخه د یوړې کولو د جزائیه مدّه، شکاره
ثبت کیږي، هغه مجرمین چه زیاد له مقرّرې
مدّه خپلو څخه په بندي خانه کښې باقي شي د دې
مامور مسئول دی!

(۱۲)- کوتوالي او حاکمان، وقت په وقت، پلټنه او باخبرې
د هغو توقیفخانو او تبدیلخانو څخه دوی پوری تعلق لري
کوی به ئې، او په برابره ولو د دی نظامنامې
کښې به دقّت او کوشش کوی.

(۱۳)- له هغو دائرو څخه چه ابتدائیه تحقیقات په حق د
مجرمینو کښې کیږي، د تحقیقات له مخې لپاره
د «منفرد حبس» د بعضو سړیو، تر یوی میاشتې
پورې امر ور کولی شي.

غیر له هغو دائرو څخه هیڅ څوک په امر
ورکولو د «منفرد حبس» کښې اجازه نه لري!

(۱٤)- توقیف شوی سړي او ښځیان، په رعایت او

http://hdl.handle.net/2333.1/1zcrjdj7 Image 9 of 20



ساتلی د ټولو داخلي تعليمونو او نظامنامو د توقيفخانې
او بندي خانې سره مجبور دي، هغه کسان
چه رعايت د داخلي نظامنامې د هغې نه کوي
يا سرولړدي څخه باسي يا لپاره د ځان فعليّه
تدبيرونه د تشبث لو کوي - سم له حکومت
حاکمانو د هغه ځای په خپل کښ د داسې شانو
سړيو به هر ځلی سزا و مجازات د " منفرد حبس "
ترڅنګ لس ورځو اجراء کيږي!

(۱۵):- په بنديخانه او توقيف خانو کښ لپاره د ښځو او
وړکيو هلکانو بېل ځايونه مقرّر دي!

(۱۶):- هيڅ څوک په توقيف خانه او بندي خانو کښ
هغه شيان او پيسي چه زياد د دوی د احتياج
څخه وي، ځان سره نشي ساتلی - او داسي پيسه
او شيان چه محبوس له خپل حاجت څخه زياد
لري که کوم اتومرتي په ښهر يا نژدي ښهر

دی په هر یو لر خپل تومرخه چه د مجرم رضا، سپارلے
او رسید وثیقې اخسته شي، کړ دا مجرم د اطراف
یا د نورو ولایتو او په ښهر او نږدی وښهرته کود او قوم
ته لوی ـ په اوله ورځ د بندی توب او توقیف دده
کښ په مدیریت د توقیف خانه یا بندی خانه کښ
سپارلی، او رسید د هغه پخپله هغه مجرم ته
ورکول کیږي ـ په مدة د بندی توب د ده کښ
که څه شي د خپل خرڅ لپاره، ضرور د اخستلو کیږي،
اخستلای ئې شي ـ او په هغه وقت کښ چه مدة
د بندی توب د ده خلاص شي برابر له هغه
رسید د مدیریت سره هغه پیسه او شیان و
ده ته سپارل کیږي ـ هغه ماموران چه په
امانت مال د توقیف شوی سړیو او بندیانو کښ
تصرف وکړي یا په ورځ د یله کیدلو د دوی کښ څه
شي له دی څخه خاوری ټیری کړیوی سم له

نظامنامې د جزای عمومي سره حکم د جزا پرې کیږي

(۱۷):- لپاره د کیناستلو او لیدلو د مجرمینو، د دوی قومونه په هره هفته کښ دوه ورځې پنجشنبه او یکشنبه معلومې شوې دي - وتلې د دې ورځو څخه مجرمین خپل قوم سره کیناستل او لیدل نشي کولای.

(۱۸):- د توقیف او بندي خانې مامورانو له خبر اخیستلو د اصول د خوراك او علاج د مرضو د هغو کسانو چه په بندي خانو کښ استوګنه لري جواب ده دي یعني دا مامور په ښه شان سره به ګوري چه د بندیانو د ورځې مناسب د خوراك لپاره وي، او په معلومه اندازه په ترتیب سره په خاص وقتو کښ دوی ته ورکړشي او هم اسې توقیف شوې سړي او بندیان د خپل د خوراك سرشته له خپلو پیسو

څخه کولای شي، مګر لیاره د داسې شان
سړیو د دولت له خوا څخه خوراک نه ورکاوله کیږي

(۱۹):- د هغه بندیانو او توقیف شوي سړیو چه په دایمي
موضوع آخته وي چه نورو ته تقریږي ته ووځي په یوې
خاصي بیلې کوټې د بندي خانې کښې علاج او
دارو ورته دوی لګیږي - یواځې هغه د څوران
چه د جراحي د عملیات لازمه لیدله شي په عامې
شفاخانې کښې تر علاج/ اوساتنه لاندې نیول کیږي

(۲۰):- لیاوه د ضبط او ربط او ساتنه او انتظام د داخلې
ماموران د توقیفانو او د بندي خانو، هر کله چه
ضرور وديق کوشي او شاو خواه د بندي خانې
او لاندې د فرش او کالي د بندیانو لیدلای شي
له توقیف شوي سړیو او بندیانو سره ای په داخل
د بندي خانه او توقیف خانه کښې هر وخت چه
[illegible] د دوی هرګونګي وسلې او [illegible]

http://hdl.handle.net/2333.1/1zcrjdj7 Image 13 of 20



چرس او تماکو او نسوار او نور کيفي شيان بالکل
منع دي هغه کسان چه د ترياك عملي وي،
په باب د دوی کښې د سعي وکړے چه برابر د
ډاکټر له هدايتو او ښوونو سره، عمل د ترياك د دوئ
پريښودل شي او که دا سبب د مړه کيدلو د دے
شي په تقدر د احتياج په خوراك د هغه سره
اجازه لري.

(۲۱): مجرمين چې له حضوره د حاکم او له هغو
ځايو ته چه د دوی استنطاق هلته کيږي،
بل ځای ته اجازه د تللو نه لري مجرمين لپاره
د جوړه ولو د کارو د خپل ځان يو تن وکيل نيولای شي

(۲۲): چې بندی خانو کښې کار او کسب د بنديانو دپاره شوے
دی هر بندی په يو هغه کار باندی چه منظور شوی
کښې ترتيب کيږي مشغول به وي!

(۲۳): هغه کسان چه بندي کيږي خوراك د دوئ

http://hdl.handle.net/2333.1/1zcrjdj7 Image 14 of 20



د دولت له خوا ورکاوه شي ـ هغه پیسې
چه د دوی د کارونتیجې ځنه پیدا کیږي،
دولت ته تعلق لري!

(۲٤):ـ ښه ساتنه د اسبابونو د کار د بندي خانو د
مامورانو له وظیفو ځنه شامل کیږي ـ کاردانان
د بندي خانې به په نظر د غور سره گوري
چه بندیان د اسبابونه د کار لپاره د تښتېدلو
یا لپاره د ضرر رسولو د نته په بندیخانه کښ
استعمال نکړي.

(۲۵):ـ ترهغه پوري چه بندي خانې په نوي اصول
سره جوړیږي، نائب الحکومه او تول حاکمان
په انتظام او صفائۍ او ترتیب او پاکي د بندیخانې
کښ توجه کړي ـ له دی جملې ځنه، ښه به
کوي، چه چاپیر له بندي خانو لپاره د
ساتنه د بندیانو ښه مضبوطه دیوالونه.

http://hdl.handle.net/2333.1/1zcrjdj7 Image 15 of 20



او دننه په بندی خانو کښې لکه غسلخانه دلو لپاره او نور شیان چه لپاره د لری کولو د احتیاج د بندیانو ضرور ولیدلی شی په ښه شان سره به ئی ترتیب کوی!

(۳۶):- دا نظامنامه له تاریخه د لخوړیدو او اعلانات د دی چلیږی او مقرر دی.

(۳۷):- په اجرا کولو د ماده و د دی نظامنامی نور ذوات عمل لیته مکلف او مسئول دی!

په داخلولو د دی نظامنامی په نظامنامو د دولت کښی او په جاری کولو د حکمو د مادو د دی سره امر او اراده کومه.

http://hdl.handle.net/2333.1/1zcrjdj7 

http://hdl.handle.net/2333.1/1zcrjdj7 

http://hdl.handle.net/2333.1/1zcrjdj7 

